مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیف قاضيزاده ۲۰۲۶/۰۷/۱۴

# د افغانستان په اړه د ایران د څوارخیزې ډیپلوماسۍ تحلیل

## د طالبانو، مخالفو جریانونو او فاطمیون لښکر د هممهالې بلنې په رڼا کې

**سریزه**

افغانستان د خپل جیوپولیتیکي موقعیت ، تاریخي او فرهنګي اړیکو ، اوږدې ګډې پولې او د دغه هېواد د تحولاتو د سیمي پر امنیت او ثبات د مستقیم اغېز له امله ، تل د ایران د اسلامي جمهوریت د بهرنۍ پالیسۍ له مهمو محورونو څخه شمېرل شوی دی . په ۲۰۲۱ کال کې واک ته د طالبانو بېرته راګرځېدل ، د افغانستان په سیاسي جوړښت کې د بدلون ترڅنګ ، د سیمې امنیتي او ستراتیژیک معادلې هم بدلې کړې او ګاونډي هېوادونه، په ځانګړي ډول ایران ، یې دې ته اړ کړل چې د افغانستان په اړه خپلې ستراتیژۍ له سره تعریف کړي . په داسې شرایطو کې ، د ایران د اسلامي جمهوریت هر ډول ډیپلوماتیک اقدام د افغانستان د بېلابېلو لوبغاړو په اړه ، د طالبانو له حکومت ، د مخالفو جریانونو له مشرانو او د فاطمیون لښکر له ځینو اړوندو شخصیتونو سره په یو وخت تعامل ، یوازې یو "خیریه " او تشریفاتي چلند نه بلکې یو داسې اقدام ارزول کېدای شي چې ځانګړي سیاسي ، امنیتي او جیوپولیتیکي پیغامونه او موخې له ځان سره ولري .

د نړیوالو اړیکو په ادبیاتو کې ، په نړیوال انارشیک نظام کې د دولتونو چلند تر ډېره د ملي ګټو د تأمین ، د امنیت د ساتنې ، د نفوذ د زیاتوالي او د ګواښونو د مدیریت پر منطق ولاړ تشریح کېږي . له همدې امله ، د افغانستان په اړه د ایران د سیاست تحلیل هم د نظري چوکاټونو ، په ځانګړي ډول د واقعګرایی (Realism) او د «هجینګ» (Hedging) یا «د ګڼو انتخابونو د ساتلو» له مفهوم څخه د کټې اخیستنې غوښتنه کوي . پر همدې بنسټ ، د دې څېړنې اساسي پوښتنه دا ده چې د طالبانو ، د هغوی د مخالفینو او د فاطمیون لښکر له اړوندو څېرو څخه همهاله بلنه ، د ایران د اسلامي جمهوریت په بهرنۍ پالیسۍ کې کومې موخې او پیغامونه تعقیبوي ، او دغه اقدام تر کومه بریده د واقعګرایی له اصولو او د ایران د سیمه‌ییزې پالیسۍ له اړتیاوو سره سمون لري ؟
اوسنۍ مقاله هڅه کوي چې د نظري تحلیل او د دې پېښې د سیاسي او ډیپلوماتیکو ابعادو د ارزونې پر بنسټ ، د ایران د اسلامي جمهوریت د ملي او سیمه‌ییزو ستراتیژیکو ګټو په چوکاټ کې د دغه اقدام موخې ، پایلې او احتمالي پیغامونه روښانه کړي .

د ایران له لوري د طالبانو ، د هغوی د مخالفینو او د فاطمیون لښکر د قوماندانانو د همهالې بلنې د موخو او پیغامونو شننه

د طالبانو د چارواکو ، احمد مسعود ، محمد محقق او د فاطمیون لښکر د یو شمېر قوماندانانو یا اړوندو څېرو ته د ایران د اسلامي جمهوریت له خوا په یوه رسمي مراسم کې همهاله بلنه ، د بهرنۍ پالیسۍ د اصولو او د واقعګرایی (Realism) د تیورۍ په چوکاټ کې تحلیل کېدای شي . دغه اقدام ، تر دې چې د ایران له نظره د دغو لوبغاړو د مساوي ځایګی څرګندونه وکړي ، د ګڼو انتخابونو د ساتلو او له افغانستان سره د ټولو اغېزناکو لوبغاړو سره د اړیکو د همهاله مدیریت د پالیسۍ څرګندونه کوي .
ایران په تېرو څلورو لسیزو کې تل هڅه کړې چې د افغانستان له بېلابېلو سیاسي او پوځي جریانونو ، اعم له واکمنو حکومتونو، مخالفو ډلو او نورو اغېزناکو لوبغاړو سره خپلې اړیکې وساتي . د دې تګلارې اساسي دلیل د افغانستان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د سياسي جوړښت بې‌ثباتي او په دغه هېواد کې د واک د راتلونکي نامعلوموالی دی ؛ له همدې امله ، تهران نه غواړي خپله ټوله سياسي او امنيتي پانګه يوازې پر يوه لوبغاړي متمرکزه کړي .
له همدې کبله ، د افغانستان په اړه د ايران پاليسي تر ډېره پروژه‌محوره او تاکتيکي بڼه لري ، چې د څو نظري چوکاټونو له مخې ارزول کېدای شي .

- نظري چوکاټ ؛ واقعګرايي (Realism):

د واقعګرايي له ليدلوري ، دولتونه د خپلو ملي ګټو پر بنسټ ، د امنيت ، ځواک او بقا په چوکاټ کې، د نړيوال نظام په انارشيک جوړښت کې پرېکړې کوي .

د همدې ليدلوري په رڼا کې ، ايران په افغانستان کې د لاندې موخو د ترلاسه کولو په لټه کې دی :

- د سرحدي امنيت پر وړاندې د ګواښونو مخنيوی (مخدره مواد او وسله‌والې ډلې) .
- د کډوالو د مسئلې ( مهاجرتونو) مديريت .
- د سيمه‌ييزو سيالانو د نفوذ کمول (متحده ايالات ، ځينې عربي هېوادونه او پاکستان) .
- د افغانستان په لوېديځه برخه کې د ستراتيژيک عمق او امنيتي کمربند رامنځته کول .
«ايران د افغانستان په لوېديځه برخه کې ستراتيژيک عمق (Strategic Depth ) او امنيتي کمربند ( Security Buffer Zone) رامنځته کول» ، ايران هڅه کوي د افغانستان لوېديځې سيمې د خپلې ملي امنيتي ستراتيژۍ يوه برخه وګرځوي ، څو د احتمالي ګواښونو مخه له خپلو سرحدونو څخه بهر ونيسي .

- ستراتيژيک عمق (Strategic)
د ايران لپاره د افغانستان لوېديځ، په ځانګړي ډول هرات او شاوخوا سيمې، د داسي ستراتيژيک عمق په توګه ارزول کېږي چې د احتمالي امنيتي ګواښونو، افراطي ډلو ، قاچاق او بهرنيو پوځي نفوذونو د مخنيوي لپاره مهم رول لري
.
- امنيتي کمربند (Security Buffer Zone) :
امنيتي کمربند هغه جغرافيايي سيمه ده چې د يوه هېواد او احتمالي ګواښ ترمنځ د حايل يا محافظتي سيمې په توګه عمل کوي . د دې هدف دا دی چې هر ډول امنيتي خطر د اصلي سرحدونو تر رسېدو مخکې مهار شي .

د ايران له نظره ، که د افغانستان لوېديځې سيمې نسبي ثبات ولري او تهران پکې سياسي او اقتصادي نفوذ ولري ، نو دا به د ايران لپاره د يو امنيتي کمربند په توګه عمل وکړي او د ناامنۍ د خپرېدو مخه به ونيسي .
د دې جملې مفهوم دا نه دی چې ايران غواړي د افغانستان خاوره خپله کړي؛ بلکې په جيوپوليتيک او د نړيوالو اړيکو د نظريو له مخې دا معنا لري چې ايران هڅه کوي د افغانستان په لوېديځ کې داسې سياسي ، اقتصادي ، کلتوري او امنيتي نفوذ رامنځته کړي چې د خپل ملي امنيت، سيمه‌ييز نفوذ او ستراتيژيکو ګټو د خوندي کولو وسيله وګرځي
.
دغه مفهوم په ځانګړي ډول د دفاعي واقعيت‌پالنې (Defensive Realism)، جيوپوليتيک او ملي امنيت د نظريو له مخې تحليل کېږي .
ځينې څېړونکي باور لري چې ايران د افغانستان په لوېديځ کې د نفوذ د ساحې (Sphere of Influence) او امنيتي کمربند (Security Buffer) د رامنځته کولو هڅه کوي ، څو امنيتي ګواښونه د خپلو پولو څخه لرې مديريت کړي
.
يا په بل عبارت د جيوپوليتيک او واقعيت‌پالنې د نظريو له مخې ، داسې شواهد او تحليلونه شته چې ايران هڅه کوي د افغانستان په لوېديځ کې د سياسي، اقتصادي او امنيتي نفوذ له لارې د خپل ملي امنيت لپاره يو امنيتي کمربند رامنځته يا پياوړی کړي .

له همدې امله ، په يوه ځانګړي او ځيرک نظر بايد وويل شي چې د افغانستان په اړه د ايران پاليسي « په بشپړه توګه د درک وړ » ده . د افغانستان په اړه د ايران پاليسي ثابته ، بنسټيزه او نهادينه شوې پاليسي ده ؛ خو :
د ايران د دولت عمومي موخې ثابتې دي، خو وسايل او ابزار يې په دوامداره توګه بدلېږي .

- له طالبانو ، وسله‌والو مخالفينو او د پخوانيو حکومتونو له غړو سره هم‌مهاله تعامل ، د ايران تاکتيکي او مقطعي پرېکړه‌نيونه څرګندوي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

- د افغانستان د ورځنيو تحولاتو پر وړاندې غبرګون .
- له لنډمهالو فرصتونو څخه ګټه اخيستنه .
د ايران د پاليسۍ څوپوړيز او غيرخطي ماهيت، يعني په يوه وخت کې ډيپلوماتيک تعامل، امنيتي فشار، فرهنګي او اقتصادي نرم نفوذ، د دې لامل ګرځي چې د پرله‌پسې او اوږدمهالي ستراتيژۍ نښې لږ تر سترګو شي .

د همدې چوکاټ له مخې ، له طالبانو او د هغوی له مخالفينو څخه هممهاله بلنه لاندې ستراتيژيکي موخې تعقيبوي :

لومړی : له افغانستان سره د ټولو اغېزناکو اړخونو د اړيکو د کانالونو ساتل ، څو که د ځواک په توازن کې بدلون راشي، ايران بيا هم له ټولو لوبغاړو سره د تعامل وړتيا ولري .

دويم : د طالبانو پر وړاندې د چنې وهلو د ځواک زياته ول ؛ په دې معنا چې که د هلمند (هيرمند) د اوبو حق ، د سرحدونو امنيت ، کډوال، سوداګري او يا نورو دوه‌اړخيزو موضوعاتو په اړه اختلاف رامنځته شي ، تهران وکولای شي له نورو سياسي جريانونو سره خپلې اړيکې د ډيپلوماتيک فشار د يوې وسيلې په توګه وکاروي .

درېيم : د سيمې په کچه د ايران د هغه هېواد په توګه د درېځ ټينګول ، چې له افغانستان د ټولو سياسي جريانونو سره د اړيکو او خبرو اترو وړتيا لري او د اړتيا په صورت کې د منځګړي يا د خبرو اترو د اسانتيا برابروونکي رول ترسره کولای شي .
همدارنګه ، د فاطميون لښکر له اړوندو څېرو څخه بلنه دا څرګندوي چې ايران لا هم دغه شبکه د خپلې يوې ستراتيژيکي ظرفيت په توګه ساتلې ده ؛ که څه هم دا لازماً په دې معنا نه ده چې ايران غواړي له دې ظرفيت څخه په افغانستان کې په عملي يا پوځي توګه استفاده وکړي .
د نړيوالو حقوقو او ډيپلوماتيک عرف له نظره ، دا ډول اقدام چندان غيرمعمول نه ګڼل کېږي . په ډېرو رسمي مراسمو کې ، لکه د مشرانو د جنازې په مراسمو ، د لوړې (تحليف) په مراسمو او يا نړيوالو غونډو کې ، هېوادونه له هغو شخصيتونو او ډلو څخه هم بلنه کوي چې کېدای شي له يو بل سره جدي اختلافات ، آن سياسي دښمني ولري . د دغه اقدام موخه عموماً له ټولو اړخونو سره د اړيکو ساتل ، د خبرو اترو لپاره د چمتووالي څرګندول ، د منځګړيتوب د رول پياوړتيا او د ملي ګټو تأمين وي .
له همدې امله ، په يوه رسمي مراسم کې د سيالو لوبغاړو ګډ حضور ، په هېڅ صورت د هغوی ترمنځ د يو شان موقف ملاتړ يا سياسي اتحاد معنا نه لري .
خو ، په عين وخت کې ، بايد د بلل شويو مېلمنو ترمنځ د ماهوي توپير له پامه ونه غورځول شي . د طالبانو چارواکي د افغانستان د برحال حکومت استازي ګڼل کېږي او له هغوی سره تعامل د واکمن حکومت سره د رسمي سياسي اړيکو په چوکاټ کې د توجيه وړ دی .
په مقابل کې ، احمد مسعود او محمد محقق د سياسي ـ پوځي مخالفو جريانونو مشران دي ، چې له هغوی سره د اړيکو ساتل د ايران د اړيکو د کانالونو د ساتلو د پاليسۍ يوه برخه ګڼل کېږي .
فاطميون لښکر هم يوه غيردولتي وسله‌واله پوځي ډله ده ، چې له ايران سره يې د اړيکو ماهيت ، د تهران له دولتونو يا سياسي شخصيتونو سره له اړيکو څخه بنسټيز توپير لري .
له همدې امله ، له دغو لوبغاړو څخه هممهاله بلنه په هېڅ صورت د دې معنا نه لري چې د ايران له نظره د هغوی ځايګی ، د باور کچه او يا دندې يو شان دي ؛ بلکې هر يو يې د ايران د اسلامي جمهوريت د ګټو او ستراتيژيکو محاسبو پر بنسټ بېلابېل رولونه ترسره کوي .

د ايران دغه اقدام د طالبانو لورې ته هم ځانګړي سياسي پيغامونه لرلای شي .

ايران د دې بلنې له لارې وښودل چې خپله پاليسي يې يوازې پر طالبانو نه ده ولاړه کړې ، بلکې لا هم له افغانستان د نورو سياسي جريانونو سره خپلې اړيکې ساتلې دي . دا ډول چلند د طالبانو لپاره د يوه سياسي خبرداري په توګه تعبيرېدای شي ؛ يعنې د ايران ملاتړ بايد قطعي او دايمي ونه ګڼل شي (بلکې مقطعي او تاکتيکي بڼه لري) ، او که د هلمند (هيرمند) د اوبو د حق ، د سرحدونو امنيت ، کډوالو او يا نورو ستراتيژيکو موضوعاتو په اړه اختلاف رامنځته شي ، تهران نور سياسي او ارتباطي اهرمونه هم په واک کې لري .
البته ، يوازې دا موضوع د دې دليل نه شي کېدای چې ايران په افغانستان کې د کورنۍ جګړې د رامنځته کولو يا پراخولو نيت لري ؛ که څه هم له بېلابېلو لوبغاړو سره د اړيکو ساتل ، د راتلونکو تحولاتو په وړاندې د ايران د سياسي مانور ظرفيت زياتوي .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

له علمي پلوه باید دا تفکیک ترسره شي :

د موخو په کچه :
د افغانستان په اړه د ایران پالیسي واقعګرایانه (Realist) ده .
د اجرا په کچه :
د ایران چلند تر ډېره تاکتیکي ، غبرګونیز (واکنشي) او پروژه‌محوره دی ، او تر یوه بریده د امنیتي پروژو د مدیریت پر بنسټ ولاړ دی .
پایله دا چې ، د افغانستان په اړه د ایران پالیسي د موخو له پلوه د واقعګرایی له منطق څخه سرچینه اخلي، خو د اجرا په کچه یې تر ډېره تاکتیکي، فرصت‌محوره او د ډګر ( میدانی ) تحولاتو سره تطبیقي ماهیت خپل کړی ، نه دا چې یوه بشپړه یو موټي او اوږدمهاله ستراتیژي وي .
که د افغانستان په اړه د ایران پالیسي له پاکستان سره پرتله کړو ، ویلای شو چې دواړه هېوادونه د افغانستان په وړاندې له څوپوړیزې او تر یوه بریده له ورته پالیسی څخه کار اخلي .
دواړه هیوادونه هڅه کوي له بېلابېلو افغان لوبغاړو سره اړیکې ولري ، تر څو په راتلونکو تحولاتو کې خپل نفوذ وساتي او د یوه لوبغاړي پر وړاندې د بشپړې اتکا د مخنیوي لپاره د موازنې (Balance) له پالیسی څخه ګټه واخلي.

خو د دواړو هېوادونو موخې او ستراتیژۍ یو شان نه دي . پاکستان ، افغانستان د خپل مستقیم امنیتي چاپېریال برخه ګڼي، او اساسي لومړیتوب یې د هند د نفوذ پراخېدو مخنیوی ، د پښتون او بلوڅ ملتپالني مدیریت ، او همدارنګه د ډیورنډ کرښې اړوند مسایلو اداره کول دي ؛ له همدې امله ، د پاکستان پالیسي تر ډېره امنیت‌محوره ده .
په مقابل کې ، ایران د سرحدونو د امنیت تر څنګ ، د هلمند د اوبو حق ، کډوالو ، سوداګری ، فرهنګي نفوذ ، د شیعه وګړو امنیت، د شیعه کمربند رامنځته کول، او د سیالو قدرتونو د حضور مخنیوي ته هم ځانګړې پاملرنه کوي.
له همدې امله ، د تهران پالیسي پراخ او متنوع ابعاد لري .

د نړیوالو اړیکو په ادبیاتو کې ، دا ډول چلند ته «هجینګ» (Hedging) یا د «ګڼو انتخابونو د ساتلو تګلاره» ویل کېږي ؛ یعني یو دولت پرته له دې چې په بشپړ ډول پر یوه لوبغاړي متکي شي ، په عین وخت کې له څو لوبغاړو سره اړیکې ساتي، که چیری د ځواک توازن بدل شي ، وکولای شي خپل نفوذ او ملي ګټې خوندی وساتي .

له همدې بنسټ ، د طالبانو ، وسله‌والو مخالفینو او د فاطمیون لښکر له اړوندو څېرو څخه هم‌مهاله بلنه باید تر هر څه وړاندې د همدې واقعګرایانه منطق او د ایران د نفوذ د اهرمونو د ساتلو د پالیسی په چوکاټ کې تحلیل شي ، نه دا چې د ټولو دغو لوبغاړو ترمنځ د مساوي ځایګی یا د یوه ځانګړي جریان د انحصاري ملاتړ نښه وبلل شي .

پایله

د دې موضوع څېړنه ښیي چې د طالبانو د چارواکو ، د ځینو مخالفو جریانونو د مشرانو او د فاطمیون لښکر له اړوندو څېرو څخه هم‌مهاله بلنه یوازې یو تشریفاتي اقدام یا د ټولو دغو لوبغاړو د برابر ملاتړ نښنه نه شي ګڼل کېدای .

د واقعګرایی د تیوری له نظره ، دا اقدام تر هر څه زیات د ایران د اسلامي جمهوریت د دې ستراتیژۍ انعکاس دی چې غواړي خپلې ملي ګټې وساتي ، د شاوخوا امنیتي چاپېریال مدیریت کړي ، او د افغانستان د راتلونکو تحولاتو په وړاندې د مانور ظرفیت لوړ کړي . په دې چوکاټ کې، تهران هڅه کوي له ټولو اغېزناکو لوبغاړو سره اړیکې وساتي، له یوه ځانګړي جریان سره له بشپړې اتکا څخه ځان وساتي، او تل څو سیاسي او ډیپلوماتیک انتخابونه په لاس کې ولري، څو د احتمالي تحولاتو پر مهال له هغو څخه ګټه پورته وکړي .

همدارنګه، دا تګلاره د هجینګ (Hedging) یا د څو انتخابونو د ساتلو په چوکاټ کې هم تفسیر کېدای شي ؛ هغه پالیسي چې هدف یې د سیمه‌ییز بې‌ثباته چاپېریال له خطرونو څخه د ځان ساتل، د چنې وهلو د ځواک زیاتول، او د افغانستان په راتلونکو معادلو کې د نفوذ ساتل دي .

له همدې لیدلوري ، د ایران دغه اقدام کولای شي طالبانو ته دا پیغام هم ولري چې د تهران اړیکې له افغانستان سره یوازې پر یوه لوبغاړي محدودې نه دي ، او ایران په سیمه‌ییزو تعاملاتو کې تل د موازنې ، انعطاف او ملي ګټو د تأمین منطق ته لومړیتوب ورکوي .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په پایله کې، د دې پېښې تحلیل ښيي چې د افغانستان په اړه د ایران پالیسي، لکه د سیمې د نورو هېوادونو په څېر ، د دقیقو مقطعي محاسبو ، جیوپولیتیکي ملاحظاتو او د نفوذ د اهرمونو د ساتنې پر بنسټ ولاړه ده، او باید د نړیوال نظام د انارشیک جوړښت او د قدرت د سیاست په منطق کې و ارزول شي .

په درناوی
سیف قاضيزاده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ